# د یوحنا رسول دوهم لیک

## د کتاب پېژندنه

د یوحنا رسول دوهم لیک یوې غوره مېرمنې او اولادونو ته يې د ۸۵ نه تر ۹۵ میلادي کلونو په شاوخوا کې لیکل شوی دی. د غوره شوې مېرمنې معنی په هغه ځای کې سیمه‌ییزه کلیسا ده او د هغې اولادونه د هغې کلیسا د غړو په معنی ده. کومو خلکو چې دا لیک ترلاسه کړی دی، یوحنا هغوی هڅولي دي چې د عیسی سره مینه ولري او همدارنګه یو د بل سره مینه وکړي او په خپل ایمان کې ټینګ پاتې شي. یوحنا د دروغجنو استاذانو په هکله خبرداری ورکوي او هغوی ته وایي چې که چېرې کوم څوک درشي او هغه تعلیم درنه کړي چې مسیح درکړی ؤ، هغه په خپل کور کې د مېلمه په توګه قبول نه کړئ.

## د موضوعګانو لست

سلامونه: ۱:۱–۳

د مینې غوره والی: ۱:۴–۶

د غلطو عقیدو په هکله خبرداری: ۱:۷–۱۱

وروستنۍ خبرې: ۱:۱۲–۱۳



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## سلامونه

۱ د ایماندارانو د مشر له خوا د خدای غوره شوې میرمنې او د هغې اولادونو ته چې په ربښتیا راباندې ګرانه ده، یوازې په ما باندې نه بلکې په هغو ټولو باندې چې د حقیقت څخه خبر دي، ۲ د هغه حقیقت په خاطر چې په مونږ کې دی او تل ترتله به زمونږ سره وي.

۳ د پلار خدای او د هغه زوی عیسی مسیح فضل، رحم او سلامتي دې وي په مونږ باندې، ترڅو دا ټول په مونږ کې چې په حقیقت کې اوسېږو او یو د بل سره مینه کوو پاتې وي.

## په ربښتینولۍ او مینه کې ژوند کول

۴ کله چې ما واورېدل چې ستا ځینې اولادونه لکه څنګه چې پلار مونږ ته حکم کړی دی په ربښتینې لار روان دي، نو ډېر خوشحاله شوم. ۵ اوس ای ګرانې میرمنې! زه ستاسو نه یوه غوښتنه کوم چې د خدای خلک باید د یو د بل سره مینه وکړي. داسې فکر مه کوه چې زه تاته کوم نوی حکم لیکم بلکې دا هماغه حکم دی چې له پیل نه مونږ ته راکړل شوی ؤ. ۶ دا مینه داسې ده چې مونږ باید د خدای په حکمونو باندې عمل وکړو. دا هماغه حکم دی چې تاسو له پیل نه اورېدلی دی او هغه حکم دا دی چې تاسو باید په مینه کې ژوند وکړئ.

## د غلطو عقیدو په هکله خبرداری

۷ ډېر غولوونکي په نړۍ کې خواره شوي دي چې دا نه مني چې عیسی د انسان په جسم نړۍ ته راغلی دی. داسې خلک غولوونکي دي او د مسیح دښمنان دي. ۸ خبردار اوسئ چې مونږ د کوم څه دپاره خواري کړې ده چې هغه لاسته راوړو، هغه برباد نه شي بلکې خپل پوره اجر ترلاسه کړو.

۹ هرڅوک چې د مسیح په تعلیم باندې ټینګ پاتې نه شي او د هغه نه وګرځي، نو خدای د هغه سره مل نه دی. خو که چېرې څوک د هغه په تعلیم باندې ټینګ ولاړ وي، نو د هغه سره به پلار او زوی دواړه مل وي. ۱۰ که چېرې کوم څوک تاسو ته راشي او هغه تعلیم درنه کړي چې مسیح



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

درته درکړی ؤ، هغه په خپل کور کې د مېلمه په توګه قبول نه کړئ او تر دې چې سلام هم ورته ونه وايئ. ۱۱ ځکه هرڅوک چې هغه ته سلام ووايي، نو هغه د هغه په بدو کارونو کې شريک دی.

## وروستنی خبرې

۱۲ زما سره ډېرې خبرې شته چې غواړم تاسو ته يې وکړم، خو زه نه غواړم چې هغه تاسو ته په قلم او کاغذ باندې وليکم. زه په دې هيله يم چې راشم او تاسو ووينم او مخامخ درسره خبرې وکړم، ترڅو زمونږ خوشحالي پوره شي. ۱۳ ستا خور چې د خدای له خوا غوره شوې ده، د هغې بچيان درته سلام وايي.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.